PASHTO

# څنګه کار کوي: د مهاجرینو لپاره لاربنود NHS

د ویړیا روغتیایي معلوماتو او مشورې ترلاسه کولو لپاره د 111
په ډایلولو سره د NHS له 24 ساعته خدمتونو وړیا تلیفوني
کرښې سره اړیکه نیولی شئ. په خپله ژبه کې د "ژباړن لطفاً"
په ویلو سره د ژباړونکي غوښتنه وکړئ.

## فارمسي- اساسي درمل

درمل جوړونکي کولی شي د یو لړ کوچنیو ناروغیو لپاره لکه ټوخی، زکام، د ستوني درد، د ګېډې تکلیف او درد او ناارامی لپاره کلینیکي مشورې او درمل وړاندې کړي. ډاکټر ته د تګ یا د اړتیا یا نورو روغتیایي متخصصینو ته ستاسو د لارښوونې پر مهال د اړتیا وړ مرستې له تر لاسه کولو څخه د ډاډمنېدو لپاره به درمل جوړونکي تاسو ته خبر درکړي. همدارنګه د کوچنیو ناروغیو لپاره درمل یا د لومړنیو مرستو توکي له درملتون یا سوپر مارکیټ څخه اخیستلی شئ؛ د نږدې درملتون موندلو لپاره، لاندې لینک ته ورشئ:

## د غاښونو او سترګو ډاکټران- د غاښونو او سترګو پاملرنه

د غاښونو او سترګو ډاکټران- د غاښونو او سترګو پاملرنه
د غاښونو ډاکټر موندلو لپاره: https://www.nhs.uk/service-search/find-a-dentist
د سترګو ډاکټر موندلو لپاره: https://www.nhs.uk/using-the-nhs/nhs-services/opticians/
که مو غاښ درد کوي، د غاښونو د پاملرنې بیړنیو خدمتونو ته په 111 زنګ ووهئ.

## د عمومي ډاکټر (GP) تشخیصیه یا طبي مرکز - طبي مدیریت، د اوږدمهاله پاملرنې همغږی او د روغتون متخصصینو ته لاسرسی

یو عمومي ډاکټر کولی شي طبي مشوره وړاندې کړي، تشخیص چمتو کړي او د درمل توصیه کړي. دوی ممکن د ډیرو فزیکي او رواني روغتیایي اندېښنو لپاره ستاسو د اړیکې لومړی ټکی وي. عمومي ډاکټر ستاسو د اوږدمهاله روغتیایي پاملرنې همغږي کولو او اداره کولو مسولیت هم لري او که د روغتون نورو تخصصي خدمتونو ته اړتیا لرئ، تاسو ورته راجع کولی شي. د روغتیایي اړتیاو پوره کولو لپاره غوره چې په یوه عمومي مرکز کې راجستر شئ. www.nhs.uk/register

## د ټولنې روغتیایی خدمتونه – د امیندواري، د ماشوم روغتیا او د امیندواری د مخنیوي خدمتونه

ځینې روغتیایی خدمتونو ته په ټولنه کې لاسرسی شته، نه په روغتونونو کې. پدې کې رواني روغتیا، د ماشوم روغتیا او تر زیږون مخکې خدمتونه او د جنسي روغتیا او کورنی تنظیم کلینیکونه شامل دي.

## د بیړنی درملنې مرکزونه - کوچنې ټپونه یا بیړنی طبي مشوره

که د کوچنیو ټپونو لکه د پرې کېدلو، اوښتلو او کوچنیو ماتېدلو یا بیړنی طبي مشورې ته اړتیا لرې، بیړنی طبي، تاسو کولی شئ په مستقیم ډول له مخکې وخت اخیستو پرته د عاجلې پاملرنې مرکز ته لاړ شئ. دا مرکزونه معمولا د ورځې په ساعتونو کې خلاص وي.

## بیړني خدمتونه - طبي بیړنی یا ژوند ګواښونکي حالت

که څوک سخت ناروغ یا ټپي وي او ژوند یې په خطر کې وي، 999 ته زنګ ووهئ. د تلیفون آپریټر به تاسو ته مشوره درکړي چې څه وکړئ یا چیرته لاړ شئ. یو امبولانس به ښایي د درملنې یا روغتون ته د ناروغ لېږد لپاره درواستول شي. د روغتون د حادثې او عاجله څانګه (A&E) د کال په هره ورځ کې 24 ساعته خلاصه وي. تاسو دغو خدمتونو ته مستقیم أو له ملاقات پرته لاسرسی موندلی شئ.

## بیړني رواني روغتیا – د ځان وژنې فکرونه یا ځان ته جدي زیان رسونه


که مو خپل ځان ته جدي زیان رسولی وي یا د زیان رسولو په حال کې یاست، د امبولانس لپاره 999 ته زنګ ووهئ یا مستقیم A&E ته لاړ شئ. که د ځان وژنې په اړه فکر کوئ، 123 116 ته په زنګ وهلو سره په Samaritans کې له چا سره خبرې وکړئ.

# د روغتیا پاملرنې لپاره ستاسو حقونه: د مهاجرینو لپاره لارښود




هر څوک حق لري چې ځان له یوه عمومي ډاکټر سره ثبت کړي
تاسو د پتې ثبوت، د کډوالۍ وضعیت، ID یا یوې NHS شمیرې ته اړتیا نه لرئ.
خپل نږدې ډاکټر ومومئ او آنلاین نوم‌لیکنه وکړئ.
که له GP سره په راجستر کولو کې ستونزه لرئ نو تاسو کولی شئ:

- د GP ته د لاسرسي کارت ډاونلوډ کړئ او دا د GP پذیرش ته وښایاست
- د مرستې لپاره د NHS انګلستان (0300 311 22 33) یا د نړۍ ډاکټرانو (0808 1647 686) ته ټیلیفون وکړئ







دغه روغتیایي خدمتونه هر چا ته وړیا دي

- GP مشوره او درملنه
- هغه خدمتونه چې د NHS 111 ټیلیفوني مشاورې کرښې د یوې برخې په توګه وړاندې کېږي
- په یوه A&E څانګه، walk-in centre، د کوچنیو ټپونو واحد یا د بیړني پاملرنې مرکز کې چمتو شوي د پېښو او عاجل خدمتونه
- د ځینو عفوني او ساري جنسي ناروغیو تشخیص او درملنه
- د NHS خدمتونه د COVID-19 څېړنې، تشخیص، درملنې او واکسین کولو لپاره چمتو شوي
- د کورنۍ تنظیم خدمتونه (د میندوارۍ مخنیوی)
- د شکنجې، د ښځو د تناسلي آلت د معیوبولو، کورني یا جنسي تاوتریخوالی له امله د رامنځته شوي جسمي یا رواني حالت درملنه



تخصصي روغتیایي خدمتونه د دغو مواردو لپاره هم وړیا دي:

- کډوال
- پناه غوښتونکي
- د عصري غلامۍ قربانیان یا شکمن قربانیان
- اړوند کسان

هغه کسان چې د پناه غوښتنې غوښتنلیک یې رد شوی وي، ښایي لاهم د NHS وړیا خدماتو ته لاسرسی ولري. وګورئ چې تاسو د وړیا روغتیایي پاملرنې مستحق یاست.

د نسخې درمل، د غاښونو او سترګو درملنه معمولا په انګلستان کې وړیا نه ده، خو هغه پناه غوښتونکي چې د کورنیو چارو اداره یې مالي ملاتړ کوي، د روغتیایي لګښتونو د مرستې ترلاسه کولو لپاره به د HC2 سند ورکړل شي. هرڅوک د دغه ملاتړ لپاره اپلای کولی شي، د اپلای د څرنګوالي په اړه نورې توصیې دلته وګورئ.

Office for Health Improvement & Disparities
In partnership with
MAYOR OF LONDON
NHS
January 2022